# د نامسلمانو احکام: جواهر الفقه 275/2

## د افغانستان اسلامي امارت

## منشور

ترتیب

د افغانستان علمي او سیاسي شخصیتونه

طلوع نیوز

**112.ماده**: د بندیانو واک له امام یا نائب امام سره دی، د ټولنیز مصلحت له مخې به چلند ورسره کوي.

**113.ماده**: د حربي بندیانو مرئیتوب په اسلام کې لازمي امر نه بلکې اختیاري کار دی نو څرنګه چې په نړیواله کچه د بندیانو مرئیتوب منع اعلان شوی، او د وخت اسلامي واکمنو هم ورسره منلې تر څو چې کفار په دې ژمنه ولاړ وي مسلمانان هم باید ژمن پاته شي، ځکه په دې کې د مسلمانانو مصلحت او خیر دی. [1]

**114.ماده**: اسلامي امارت د مصلحت په بنسټ کولی شي چې بندیان په اجتماعي او یا انفرادي توګه وساتي. خو مېرمنې، او کم عمره بندیانو ته به بېله ځای جوړوي. [2]

**115.ماده**: اسلامي امارت مکلف دی چې ټولو بندیانو ته د عباداتو زمینه برابره کړي. [3]

**116.ماده**: اسلامي امارت مکلف دی چې ټولو بندیانو ته روغتیایي اړتیاوې برابروي.

**117.ماده**: اسلامي امارت به بېوزله بندیانو ته له بیت المال څخه خوراک او څښاک هم برابر وي.

**118.ماده**: اسلامي امارت ټولو بندیانو ته د ژوند لازمې اړتیاوې(لکه: استوګنځای، خوراک، څښاک، جامې، تشناب، او انساني اړتیاوو ځایونه) برابراوي. [4]

**119.ماده**: هیڅ بندي ته داسې سزا نه شي ټاکل کېدلی چې د هغه عقل او یا باطني حواسو له منځه تللو لامل شي.

**120. ماده**: له قصاص او بدلې پرته بندي ته داسې سزا نه ورکوله کیږي، چې ظاهري حواس یې له منځه یوسي ، او یا یې شکل مسخه کړي.

**121.ماده**: هیڅ بندي د چا له لوري نه شي تحقیر کېدلی، بلکې هر چاته د خپل جرم شرعي سزا ورکول کیږي. او تحقیر د سزا برخه نه ده.

**122. ماده**: اسلامي امارت هیڅ خپلوان له بندي سره له ملاقاته نه منع کوي، هو! د مصلحت له مخې موده او ورځ ورته ټاکل کېدلی شي.

---

(1) لَهُ أَنْ يُبْقِيَهُمْ أَحْرَارًا ذِمَّةً بِوَضْعِ الْجِزْيَةِ عَلَيْهِمْ بِلَا مَالٍ يَدْفَعُهُ إلَيْهِمْ فَيَكُونُوا فُقَرَاءَ يَكْتَسِبُونَ بِالسَّعْيِ وَالْأَعْمَالِ، وَلَهُ أَنْ يَقْتُلَهُمْ وَلَهُ أَنْ يَسْتَرِقَّهُمْ كَمَا سَيَذْكُرُ. فتح القدير (5/ 470)

(وَهُوَ فِي الْأُسَارَى بِالْخِيَارِ إنْ شَاءَ قَتَلَهُمْ) «لِأَنَّهُ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - قَدْ قَتَلَ» ، وَلِأَنَّ فِيهِ حَسْمَ مَادَّةِ الْفَسَادِ (وَإِنْ شَاءَ اسْتَرَقَّهُمْ) لِأَنَّ فِيهَا دَفْعَ شَرِّهِمْ مَعَ وُفُورِ الْمَنْفَعَةِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ (وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُمْ أَحْرَارًا ذِمَّةً لِلْمُسْلِمِينَ) لِمَا بَيَّنَّاهُ (إلَّا مُشْرِكِي الْعَرَبِ وَالْمُرْتَدِّينَ). الهداية مع فتح القدير (5/ 473)

وَلِلْإِمَامِ خِيَارَانِ فِيهِمْ، إنْ شَاءَ اسْتَرَقَّهُمْ فَقَسَمَهُمْ، وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُمْ أَحْرَارًا بِالذِّمَّةِ إنْ كَانُوا بِمَحَلِّ الذِّمَّةِ وَالِاسْتِرْقَاقِ؛ لِأَنَّ الْإِسْلَامَ لَا يَرْفَعُ الرِّقَّ. بدائع الصنائع (7/ 121)

(2) ارشاد الحكام: 175-178 -180- 190

(3) ۱۸۱ ارشاد الحكام

(4) صحيح مسلم (3/ 1262) رقم الحديث (1641) فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، يَا مُحَمَّدُ، فَأَتَاهُ، فَقَالَ: «مَا شَأْنُكَ؟» قَالَ: إِنِّي جَائِعٌ فَأَطْعِمْنِي، وَظَمْآنُ فَأَسْقِنِي، قَالَ: «هَذِهِ حَاجَتُكَ».

**123.ماده**: اسلامي امارت باید ټولو بندیانو ته د دیني او عصري زده کړو زمینه برابره کړي.[1]

**124.ماده**: اسلامي امارت د حقوقي بندیان د بېځایه ځوروولو او یا په تیاره ځای کې بندي کولو اجازه نه ورکوي.

**125.ماده**: بندي ته سزا ورکول، یا یې وژل او یا ببښل یواځې د امام یا قاضي په حکم کیږي، بل هیڅوک یې په اړه د پرېکړې حق نه لري.

**126.ماده**: له قصاص پرته د بندي مثله (غړي پرې کول) یا په مخ وهل شرعاً ناروا او ممنوع دي.

**127.ماده**: هیڅوک حق نه لري چې تسلیم شوی بندي ووژني او یا بل زیان ور ورسوي.[2]

## د موسیساتو او شرکتونو په هکله.

**128.ماده**: ټول مؤسیسات باید د خپل فعالیت له پاره له اسلامي امارت څخه لیکلی جواز تر لاسه کړي.

**129.ماده**: کومې خارجي مؤسیسې چې یواځې د انساني فلاح او بهبود له پاره کار کوي اسلامي امارت د خپلو اصولو په چوکاټ کې د هغوی فعالیت ته اجازه ورکوي.[3]

---

(1) ارشاد الحکام 200

(2) شرح السير الكبير (ص: 1025)
الْأَمْنَ عَنْ الْقَتْلِ إنَّمَا يَثْبُتُ بِالْأَمَانِ أَوْ بِالْإِيمَانِ، وَبِالْأَسْرِ لَا يَثْبُتُ شَيْءٌ مِنْ ذَلِكَ، فَبَقِيَ مُبَاحَ الدَّمِ عَلَى مَا كَانَ قَبْلَ الْأَسْرِ. وَهُوَ بِالْأَسْرِ لَمْ يَخْرُجْ مِنْ أَنْ يَكُونَ مُحَارِبًا، وَلَكِنَّهُ عَجَزَ عَنْ الْمُحَارَبَةِ لِكَوْنِهِ مَقْهُورًا فِي أَيْدِينَا مَعَ قِيَامِ السَّبَبِ الَّذِي يَحْمِلُهُ عَلَى ذَلِكَ وَهُوَ الْمُخَالَفَةُ فِي الدِّينِ.

(3) {إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنْفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً } [الأنفال: 36]
قال الزحيلي: إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بالله ورسوله يقصدون من الإنفاق صدّ الناس عن اتّباع محمد، وهو سبيل الله تعالى. التفسير المنير للزحيلي (9/ 318)
مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَنْ يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ شَاهِدِينَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ أُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ (17) إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ (18) [التوبة: 17 – 18]
قال الجصاص: فَإِنْ كَانَ الْمَعْنَى هَذَا فَقَدْ دَلَّ عَلَى النَّهْيِ عَنْ مُخَالَطَةِ غَيْرِ الْمُؤْمِنِينَ وَمُدَاخَلَتِهِمْ وَتَرْكِ الِاسْتِعَانَةِ بِهِمْ فِي أُمُورِ الدِّينِ كَمَا قال لا تتخذوا بطانة من دونكم. أحكام القرآن للجصاص ت قمحاوي (4/ 277)
وَجِئْنَا إلَى صِلَةِ الْمُشْرِكِ الْمُسْلِمَ فَقَدْ رَوَى مُحَمَّدٌ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – فِي السِّيَرِ الْكَبِيرِ أَخْبَارًا مُتَعَارِضَةً فِي بَعْضِهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ – قَبِلَ هَدَايَا الْمُشْرِكِ وَفِي بَعْضِهَا أَنَّهُ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – لَمْ يَقْبَلْ فَلَا بُدَّ مِنْ التَّوْفِيقِ وَاخْتَلَفَتْ عِبَارَةُ الْمَشَايِخِ رَحِمَهُمْ اللَّهُ تَعَالَى فِي وَجْهِ التَّوْفِيقِ فَعِبَارَةُ الْفَقِيهِ أَبِي جَعْفَرٍ الْهِنْدُوَانِيُّ أَنَّ مَا رُوِيَ أَنَّهُ لَمْ يَقْبَلْهَا مَحْمُولٌ عَلَى أَنَّهُ إنَّمَا لَمْ يَقْبَلْهَا مِنْ شَخْصٍ غَلَبَ عَلَى ظَنِّ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ – أَنَّهُ وَقَعَ عِنْدَ ذَلِكَ الشَّخْصِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ – إنَّمَا يُقَاتِلُهُمْ طَمَعًا فِي الْمَالِ لَا لِإِعْلَاءِ كَلِمَةِ اللَّهِ وَلَا يَجُوزُ قَبُولُ الْهَدِيَّةِ مِنْ مِثْلِ هَذَا الشَّخْصِ فِي زَمَانِنَا وَمَا رُوِيَ أَنَّهُ قَبِلَهَا مَحْمُولٌ عَلَى أَنَّهُ قَبِلَ مِنْ شَخْصٍ غَلَبَ عَلَى ظَنِّ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ – أَنَّهُ وَقَعَ عِنْدَ ذَلِكَ الشَّخْصِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – إنَّمَا يُقَاتِلُهُمْ لِإِعْزَازِ الدِّينِ وَلِإِعْلَاءِ كَلِمَةِ اللَّهِ الْعُلْيَا لَا لِطَلَبِ الْمَالِ وَقَبُولِ الْهَدِيَّةِ مِنْ مِثْلِ هَذَا الشَّخْصِ جَائِزٌ فِي زَمَانِنَا أَيْضًا وَمِنْ الْمَشَايِخِ مَنْ وَفَّقَ

طلوع نيوز

**130.ماده**: کومې مؤسیسې چې مذهبي، او کلتوري موخو له پاره کار کوي اسلامي امارت د هغوی د انحراف مخه نیسي، او اسلامي اصول ورته تاکي که خپل مسیر ته تغیر ورنه کړي، اسلامي امارت یې د کار جواز لغوه کوي. [1]

**131.ماده**: هیڅ مؤسیسه نه شي کولی چې د غیر اسلامي کړنو په ترویج کې پانګه ولګوي او یا وده ورکړي.

## د سرحدونو ټګلاره

**132.ماده**: اسلامي امارت د افغانستان د پولو ساتنه او له خپل تاټو دفاع خپله دنده ګڼي، او ورسره هڅه کوي چې تو له اسلامي نړۍ یو موټی او متحده کړي.

**133.ماده**:

## فصل

## استخبارات:

**134.ماده**: اسلامي امارت هیچاته اجازه نه ورکوي چې بېځایه د هیوادوالو د کړنو، او اړیکو تجسس، او څارنه وکړي، هو! په ځا چې د بدي نښې ښکاره شي، د تولنیز مصلحت له مخې د هغه کړه وړه څارلی شي. [2]

---

مِنْ وَجْهٍ آخَرَ فَقَالَ لَمْ يُقْبَلْ مِنْ شَخْصٍ عَلِمَ أَنَّهُ لَوْ قَبِلَ مِنْهُ لَا يَقِلُّ صَلَابَتَهُ وَعِزَّتَهُ فِي حَقِّهِ وَيَلِينُ لَهُ بِسَبَبِ قَبُولِ الْهَدِيَّةِ وَقَبِلَ مِنْ شَخْصٍ عَلِمَ أَنَّهُ لَا يَقِلُّ صَلَابَتُهُ وَعِزَّتُهُ فِي حَقِّهِ وَلَا يَلِينُ بِسَبَبِ قَبُولِ الْهَدِيَّةِ كَذَا فِي الْمُحِيطِ . الفتاوى الهندية (5/ 347) والمحيط البرهاني (5/ 363).

[1] المرجع السابق.

(2) تفسير النسفي = مدارك التنزيل وحقائق التأويل (3/ 355)

{وَلاَ تَجَسَّسُواْ} أي لا تتبعوا عورات المسلمين ومعايبهم يقال تجسس الأمر إذا تطلبه وبحث عنه تفعل من الجس وعن مجاهد خذوا ما ظهر ودعوا ما ستر الله وقال سهل لا تبحثوا عن طلب معايب ما ستره الله على عباده.

تبصرة الحكام في أصول الأقضية ومناهج الأحكام (2/ 95)

فَلَا يَجُوزُ التَّجَسُّسُ عَلَى النَّاسِ وَالتَّعَرُّضُ لَهُمْ مِنْ غَيْرِ رِيبَةٍ.

سنن أبي داود ت الأرنؤوط (7/ 250)

4888 - حدَّثنا عيسى بنُ محمَّد الرَّمليُّ ومحمدُ بنُ عوفٍ -وهذا لفظه-، قالا: حدَّثنا الفِريابيُّ، عن سفيانَ، عن ثورٍ، عن راشدِ بن سعد عن معاويةَ، قال: سمعتُ رسولَ الله -صلى الله عليه وسلم -يقول: "إنَّكَ إن اتَّبعتَ عوراتِ الناسِ أفسَدْتَهُم، أو كِدْتَ أن تُفْسِدَهُم".

سنن أبي داود (4/ 272)

4889 - حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَمْرٍو الْحَضْرَمِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنَا ضَمْضَمُ بْنُ زُرْعَةَ، عَنْ شُرَيْحِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، وَكَثِيرِ بْنِ مُرَّةَ، وَعَمْرِو بْنِ الْأَسْوَدِ، وَالْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ، وَأَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الْأَمِيرَ إِذَا ابْتَغَى الرِّيبَةَ فِي النَّاسِ أَفْسَدَهُمْ»

**135.ماده:** د اسلامي امارت د استخباراتو څانګه کولی شي چې له هرې شرعي لارې د دښمن کره، ورڅ، اريکې او پروګرامونه وڅاري.[1]

**136.ماده:** د دښمن په سيمه کې استخباراتي کسان ټاکل او د هغوی له لارې د دښمن پروګرامونه څارل د اسلامي امارت دنده ده.[2]

**137.ماده:** د اړتیا په مهال اسلامي امارت کولی شي چې د دښمن سيمې ته استخباراتي کارکوونکي ولیږي.[3]

**138.ماده:** د امارت مسئولي، يا هر غړی کولی شي چې د امنيتي ستونزو له امله خپل نوم پټ وساتي.[4]

---

(1) {وَقَالَتْ لِأُخْتِهِ قُصِّيهِ فَبَصُرَتْ بِهِ عَنْ جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ} [القصص: 11]

صحيح البخاري (5/ 111)

4113 - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ المُنْكَدِرِ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرًا، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الأَحْزَابِ: «مَنْ يَأْتِينَا بِخَبَرِ القَوْمِ» فَقَالَ الزُّبَيْرُ: أَنَا، ثُمَّ قَالَ: «مَنْ يَأْتِينَا بِخَبَرِ القَوْمِ»، فَقَالَ الزُّبَيْرُ: أَنَا، ثُمَّ قَالَ: «مَنْ يَأْتِينَا بِخَبَرِ القَوْمِ» فَقَالَ الزُّبَيْرُ: أَنَا، ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيَّ، وَإِنَّ حَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ».

الجامع الصحيح للسنن والمسانيد (15/ 14)

عن حذيفة: رضي الله تعالي عنه " دَعَانِي رَسُولُ اللهِ – صلى الله عليه وسلم –"، فَلَمْ يَكُنْ لِي بُدٌّ مِنَ الْقِيَامِ حِينَ دَعَانِي فَقَالَ: " يَا حُذَيْفَةُ، اذْهَبْ فَادْخُلْ فِي الْقَوْمِ فَانْظُرْ مَا يَفْعَلُونَ، وَلَا تُحْدِثَنَّ شَيْئًا حَتَّى تَأْتِيَنَا "

(2) الاستيعاب في معرفة الأصحاب (2/ 812)

وقيل: إن إسلامه قبل بدر، وكان رضى الله عنه يكتب بأخبار المشركين إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلم، وكان المسلمون ينقوّون به بمكة، وكان يحب أن يقدم على رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فكتب إليه رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن مقامك بمكة خير، فلذلك قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم يوم بدر: من لقي منكم العباس فلا يقتله، فإنه إنما أخرج كارها.

التراتيب الإدارية = نظام الحكومة النبوية (1/ 291)

وفي سيرة ابن إسحاق أيضا في قصة هوازن ما اجتمعوا لينظروا في أمر رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لما سمع بهم رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث إليهم عبد الله بن أبي حدرد وأمره أن يدخل في الناس، فيقيم فيهم حتى يعلم علمهم، ويأتيه بخبرهم. فانطلق ابن أبي حدرد حتى دخل فيهم فأقام بينهم، حتى سمع وعلم ما قد أجمعوا عليه من حرب رسول الله صلى الله عليه وسلم، فأخبره الخبر ونحوه في المواهب وشرحها

ص 2 من ج 3.

وترجم في الإصابة لأمية بن خويلد، فذكر أن المصطفى بعثه عينا وحده إلى قريش قال: فجئت إلى خشبة خبيب وأنا أتخوف العيون، فرقيت فيها فحللت خبيبا.

وترجم فيها أيضا لبشر بن سفيان العتكي، فذكر فيها أنه أرسله صلى الله عليه وسلم إلى مكة؛ يتجسس له أخبار قريش.

وترجم فيها أيضا لجبلة بن عامر البلوي، فذكر أنه كان عين المصطفى يوم الأحزاب، وترجم فيها أيضا لخبيب بن عدي الأنصاري، فذكر عن البخاري: بعث رسول الله صلى الله عليه وسلم عشرة رهط عينا وأمّر عليهم عاصم بن ثابت، ثم نقل أيضا عن تخريج ابن أبي شيبة أنه عليه السلام بعثه وحده عينا لقريش.

(3)

صحيح البخاري (5/ 78)

3989 - حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ، أَخْبَرَنَا ابْنُ [ص:79] شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ أَسِيدِ بْنِ جَارِيَةَ الثَّقَفِيُّ، حَلِيفُ بَنِي زُهْرَةَ، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةً عَيْنًا، وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَاصِمَ بْنَ ثَابِتٍ الأَنْصَارِيَّ جَدَّ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ».

(4) سيرة ابن هشام ت السقا (1/ 616)

طلوع نیوز

**139.ماده**: د اسلامي امارت مسئولين کولی شي چې له خپلو ملګرو هم د راز خبرې پټې وساتي.[1]

**140.ماده**: اسلامي امارت له مېرمنو هم د استخباراتو په لاره کې کار اخيستلی شي خو چې شرعي چوکاټ او د هغوی عفت ته پاملرنه وشي.[2]

## فصل:

## د اقتصادي چارو په اړه

**141.ماده**: د افغانستان اسلامي امارت نه غواړي چې د خلکو په شخصي ملکيتونو بېځايه ټيکسونه ولګوي، يواځې هغه مهال چې د بيب المال په خزانه کې د منفعت عامه(لکه:.....) له پاره بوديجه نه وي نو بيا د خلکو له وس سره سم امام کولی شي چې په هغوی ماليه ولګوي.

**142.ماده**: اسلامي امارت کولی شي چې د بهرنيو اتباعو په تجارتي مالونو هغومره ماليه(ټيکس) ولګوي څومره چې هغه هيواد په افغانانو لګوي.

**143.ماده**: تر ځمکه لاندې کانونه او معدنيات که په عامو ځمکو کې پيدا شي دا د بيت المال مال دی د امارت له اجازې پرته يې څوک د کندلو حق نه لري او که د چا په شخصي ځمکه يا کور کې را ووزي هغه يې خپل ملکيت دی، حکومت يې د ايستلو حق نه لري، هو که داسې مواد وو چې په يواځې سر هغه نه شو ايستلی يا

---

قَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ كَمَا حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ حِبَّانَ: حَتَّى وَقَفَ عَلَى شَيْخٍ مِنْ الْعَرَبِ، فَسَأَلَهُ عَنْ قُرَيْشٍ، وَعَنْ مُحَمَّدٍ وَأَصْحَابِهِ، وَمَا بَلَغَهُ عَنْهُمْ، فَقَالَ الشَّيْخُ: لَا أُخْبِرُكُمَا حَتَّى تُخْبِرَانِي مِمَّنْ أَنْتُمَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَخْبَرْتَنَا أَخْبَرْنَاكَ. قَالَ: أَذَاكَ بِذَاكَ؟ قَالَ نَعَمْ، قَالَ الشَّيْخُ فَإِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ مُحَمَّدًا وَأَصْحَابَهُ خَرَجُوا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا، فَإِنْ كَانَ صَدَقَ الَّذِي أَخْبَرَنِي، فَهُمْ الْيَوْمَ بِمَكَانِ كَذَا وَكَذَا، لِلْمَكَانِ الَّذِي بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَبَلَغَنِي أَنَّ قُرَيْشًا خَرَجُوا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا، فَإِنْ كَانَ الَّذِي أَخْبَرَنِي صَدَقَنِي فَهُمْ الْيَوْمَ بِمَكَانِ كَذَا وَكَذَا لِلْمَكَانِ الَّذِي فِيهِ قُرَيْشٌ. فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ خَبَرِهِ، قَالَ: مِمَّنْ أَنْتُمَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَحْنُ مِنْ مَاءٍ، ثُمَّ انْصَرَفَ عَنْهُ. قَالَ يَقُولُ الشَّيْخُ: مَا مِنْ مَاءٍ، أَمِنْ مَاءِ الْعِرَاقِ؟ قَالَ ابْنُ هِشَامٍ: يُقَالُ: ذَلِكَ الشَّيْخُ: سُفْيَانُ الضَّمْرِيُّ.

(1)سيرة ابن هشام ت السقا (2/ 516)

وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَلَّمَا يَخْرُجُ فِي غَزْوَةٍ إلَّا كَنَّى عَنْهَا، وَأَخْبَرَ أَنَّهُ يُرِيدُ غَيْرَ الْوَجْهِ الَّذِي يَصْمُدُ لَهُ [1]، إلَّا مَا كَانَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ، فَإِنَّهُ بَيَّنَهَا لِلنَّاسِ، لِبُعْدِ الشُّقَّةِ [2]، وَشِدَّةِ الزَّمَانِ، وَكَثْرَةِ الْعَدُوِّ الَّذِي يَصْمُدُ لَهُ، لِيَتَأَهَّبَ النَّاسُ لِذَلِكَ أُهْبَتَهُ.

(2) البداية والنهاية ط الفكر (6/ 309)

فَقُلْتُ: يَا ابْنَةَ عَمِّي قَدْ عَرَفْتِ بَلَاءَ هَذَا الرَّجُلِ عِنْدَ قَوْمِكِ، قَتَلَ زَوْجَكِ، وَطَأْطَأَ فِي قَوْمِكِ الْقَتْلَ، وَفَضَحَ النِّسَاءَ، فَهَلْ عندك ممالأة عليه؟ قالت: على أي أمر، قُلْتُ إِخْرَاجِهِ، قَالَتْ: أَوْ قَتْلِهِ، قُلْتُ: أَوْ قَتْلِهِ، قَالَتْ: نَعَمْ، وَاللَّهِ مَا خَلَقَ اللَّهُ شَخْصًا هُوَ أَبْغَضُ إِلَيَّ مِنْهُ، فَمَا يَقُومُ للَّهِ عَلَى حَقٍّ وَلَا يَنْتَهِي لَهُ عَنْ حرمة، فإذا عزمتم أخبروني أعلمكم بِمَا فِي هَذَا الْأَمْرِ... فَاجْتَمَعَ رَأْيُهُمْ على أن عاودوا الْمَرْأَةَ فِي أَمْرِهِ، فَدَخَلَ أَحَدُهُمْ- وَهُوَ فَيْرُوزُ- إِلَيْهَا فَقَالَتْ: إِنَّهُ لَيْسَ مِنَ الدَّارِ بَيْتٌ إِلَّا وَالْحَرَسُ مُحِيطُونَ بِهِ، غَيْرَ هَذَا الْبَيْتِ، فَإِنَّ ظَهْرَهُ إِلَى مَكَانِ كَذَا وَكَذَا مِنَ الطَّرِيقِ، فَإِذَا أَمْسَيْتُمْ فَانْقُبُوا عَلَيْهِ مِنْ دُونِ الْحَرَسِ، وَلَيْسَ مِنْ دُونِ قَتْلِهِ شَيْءٌ، وَإِنِّي سَأَضَعُ فِي الْبَيْتِ سِرَاجًا وَسِلَاحًا.

طلوع نيوز

## فصل:

## فرهنګي چارې

**144.ماده**:د فرهنګي کميسون خپله لائحه بايد دلته راوړل شي که تعديل ته يې اړتيا وه بيا به ګورو

## فصل:

## امر بالمعروف او احتساب

**145.ماده**:د امر بالمعروف او دعوة الارشاد خپله لائحه بايد دلته راوړل شي که تعديل ته يې اړتيا وه بيا به ګورو.

## فصل:

## بېړنی حالت:

**146.ماده**: په بېړني حالت کې امير المؤمنين کولی شي له خپل واک څخه په کته اخيستلو د امارت ټولې چارې په لاس کې واخلي.

**147.ماده**: په بېړني حالت کې د امير المؤمنين له فرمان سره سم ټولې حکومتي ادارې يو له بل سره ضم کېدلی او په واکونو کې تغير او بدلون راتللی شي.

**148.ماده**: هرې ادارې ته په بېړني حالت کې د امير المؤمنين له لوري سپارل شوي واکونه تر همدې بېړني حالت پورې تړلي دي، د بېړني حالت په لرې کېدلو سره ټول واکونه بېرته خپلو اصلي مراجعوته سپارل کيږي.

**149.ماده**:

طلوع نيوز

ډېر زیات معدنیات وو بیا امارت کولی شي چې هغه سره د نصو رویو په بند قانع او د معدن کندلو چارې بیت المال ته وسپاري.

## لومړی فصل

### عمومي مواد

1. **مادة**: افغانستان يو خپلواک، اسلامي هيواد دی.[1]
2. **مادة**: د افغانستان حکومتي نظام "اسلامي امارت" دی.[2]
3. **مادة**: د افغانستان رسمي دين د اسلام سپېڅلی دين دی.[3]
4. **ماده**: په افغانستان کې يواځې هغه قوانين د منلو وړدي چې له شرعي حکمونو سره ټکر ونه لري.
5. **مادة**: د نورو اديانو پيروان به خپل ديني حکمونه او مراسم د هغه قوانينو په چوکاټ کې تر سره کوي چې د اسلام مبين دين ور ټاکلي.[4]
6. **ماده**: د افغانستان ټول اتباع د هغوی له پاره په ټاکل شويو اسلامي او شرعي اصولو مکلف دی.[5]

---

(1) فَكُلُّ مَوْضِعٍ ظَهَرَ فِيهِ حُكْمُ الشِّرْكِ فَالْقُوَّةُ فِي ذَلِكَ الْمَوْضِعِ لِلْمُشْرِكِينَ فَكَانَتْ دَارَ حَرْبٍ، وَكُلُّ مَوْضِعٍ كَانَ الظَّاهِرُ فِيهِ حُكْمُ الْإِسْلَامِ فَالْقُوَّةُ فِيهِ لِلْمُسْلِمِينَ...وَهَذِهِ الدَّارُ كَانَتْ دَارَ إِسْلَامٍ فِي الْأَصْلِ. المبسوط للسرخسي (10/ 114).

دَارُ الْإِسْلَامِ هِيَ: كُل بُقْعَةٍ تَكُونُ فِيهَا أَحْكَامُ الْإِسْلَامِ ظَاهِرَةً. الموسوعة الفقهية الكويتية (20/ 201)

حِمَايَةُ الْبَيْضَةِ وَالذَّبُّ عَنِ الْحَرِيمِ؛ لِيَتَصَرَّفَ النَّاسُ فِي الْمَعَايِشِ، وَيَنْتَشِرُوا فِي الْأَسْفَارِ آمِنِينَ مِنْ تَغْرِيرٍ بِنَفْسٍ أَوْ مَالٍ. الأحكام السلطانية للماوردي (ص: 40)

قال ابن عابدين: قَادِرًا: أَيْ عَلَى تَنْفِيذِ الْأَحْكَامِ وَإِنْصَافِ الْمَظْلُومِ مِنْ الظَّالِمِ، وَسَدِّ الثُّغُورِ؛ وَحِمَايَةِ الْبَيْضَةِ وَحِفْظِ حُدُودِ الْإِسْلَامِ؛ وَجَرِّ الْعَسَاكِرِ. (رد المحتار) (1/ 548).

(2) {وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا } [الأحزاب: 36]

(3) {وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ (85)} [آل عمران: 85]

{ إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَمَنْ يَكْفُرْ بِآيَاتِ اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ } [آل عمران: 19]

(4) وَيُمْنَعُونَ مِنْ اسْتِيطَانِ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ لِأَنَّهُمَا مِنْ أَرْضِ الْعَرَبِ قَالَ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - «لَا يَجْتَمِعُ فِي أَرْضِ الْعَرَبِ دِينَانِ» الدر المختار مع رد المحتار (4/ 208)

يُشْتَرَطُ فِي هَذَا الْعَقْدِ قَبُول وَالْتِزَامُ أَحْكَامِ الْإِسْلَامِ فِي غَيْرِ الْعِبَادَاتِ، مِنْ حُقُوقِ الْآدَمِيِّينَ فِي الْمُعَامَلَاتِ وَغَرَامَةِ الْمُتْلَفَاتِ، وَكَذَا مَا يَعْتَقِدُونَ تَحْرِيمَهُ كَالزِّنَى وَالسَّرِقَةِ، كَمَا يُشْتَرَطُ فِي حَقِّ الرِّجَال مِنْهُمْ قَبُول بَذْل الْجِزْيَةِ كُل عَامٍ. الموسوعة الفقهية الكويتية (7/ 123)

(5) أَمْرُ السُّلْطَانِ إِنَّمَا يَنْفُذُ إِذَا وَافَقَ الشَّرْعَ وَإِلَّا فَلَا أَشْبَاهُ الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (5/ 422)

هَذِهِ الْقَاعِدَةُ مَأْخُوذَةٌ مِنْ قَاعِدَةِ "تَصَرُّفُ الْقَاضِي فِيمَا لَهُ فِعْلُهُ مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ وَالْأَوْقَافِ مُقَيَّدٌ بِالْمَصْلَحَةِ " أَيْ أَنَّ تَصَرُّفَ الرَّاعِي فِي أُمُورِ الرَّعِيَّةِ يَجِبُ أَنْ يَكُونَ مَبْنِيًّا عَلَى الْمَصْلَحَةِ، وَمَا لَمْ يَكُنْ كَذَلِكَ لَا يَكُونُ صَحِيحًا. وَالرَّعِيَّةُ هُنَا: هِيَ عُمُومُ النَّاسِ الَّذِينَ هُمْ تَحْتَ وِلَايَةِ الْوَلِيِّ.... وَالْحَاصِلُ يَجِبُ أَنْ يَكُونَ تَصَرُّفُ السُّلْطَانِ وَالْقَاضِي وَالْوَالِي وَالْوَصِيِّ وَالْمُتَوَلِّي وَالْوَلِيِّ مَقْرُونًا بِالْمَصْلَحَةِ وَإِلَّا فَهُوَ غَيْرُ صَحِيحٍ وَلَا جَائِزٍ. درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (1/ 57)

طَاعَةُ الْإِمَامِ فِيمَا لَيْسَ بِمَعْصِيَةٍ وَاجِبَةٌ. (رد المحتار) (2/ 172) وَتَجِبُ طَاعَةُ الْإِمَامِ عَادِلًا كَانَ أَوْ جَائِرًا إِذَا لَمْ يُخَالِفْ الشَّرْعَ. (رد المحتار) (4/ 263)

طَاعَةُ الْإِمَامِ فِيمَا لَيْسَ بِمَعْصِيَةٍ فَرْضٌ، فَكَيْفَ فِيمَا هُوَ طَاعَةٌ؟ بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (7/ 140)

طلوع نیوز

7. **مادة**: په افغانستان کې د اسلامي شریعت خلاف هیڅ قانون د منلو نه دی.[1]

8. **ماده**: د افغانستان اسلامی امارت بیرغ سپین رنګ لري، چې په تور رنګ کلمه شریفه پرې لیکل شوې ده.[2]

9. **ماده**: د افغانستان اسلامي امارت پېژند نښه(لوګو) له اته شیانو جوړ دی:

أ. له دواړه لورو ته راتاو دوه توري دي.

ب. وریښي دواړه لورو ته په سپنه پټۍ د غنم دوه دوه تړلي وږي دي.

په منځ کې له لاندې لوري:

ج. لومړي د "افغانستان اسلامي امارت" نوم لیکل شوی.

د. بیا هجري تاریخ لیکل شوی.

ه. بیا سپینه پټۍ د غنم د وږیو تر منځ غځېدلې ده.

و. بیا محراب دی.

ز. بیا په رهبل کې پروت پرانیستی قرآن کریم دی.

ح. په پورتنۍ برخه کې نیم ختلی لمر دی چې شعلې يې پورته کیږي.

10. **مادة**: ټول هغه کفري قوانین چې د اسلامي شریعت له حکمونو سره ټکر وي(لکه: جمهوریت، دیموکراسي، سوشلیزم، لبرالیزم) په افغانستان کې ځای نه لري.

11. **مادة**: د اسلام مبین دین د ټولو احکامو، او شرعي قوانینو بشپړ تطبیق، له دیني ارزښتونو دفاع د افغانستان اسلامي امارت دنده او مکلفیت دی.

12. **ماده**: ټول هغه رسمونه او رواجونه چې شریعت سره ټکر وي (لکه: په بدی کې د مېرمنو ورکول، کونډې په میراث وړل او داسې نور...) په افغانستان کې د منلو نه دي.

---

(1) قال الله تبارك وتعالى:{وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ} [المائدة: 45]

وقال تعالى: {وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّهِ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَحِيمًا (64) فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا } [النساء: 64، 65]

(2) وَيَنْبَغِي أَنْ تَكُونَ أَلْوِيَةُ الْمُسْلِمِينَ بِيضًا وَالرَّايَاتُ سُودًا، عَلَى هَذَا جَاءَتْ الْأَخْبَارُ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «كَانَتْ رَايَةُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَوْدَاءَ وَلِوَاؤُهُ أَبْيَضَ». ... ثُمَّ اللِّوَاءُ اسْمٌ لِمَا يَكُونُ لِلسُّلْطَانِ، وَالرَّايَةُ اسْمٌ لِمَا يَكُونُ لِكُلِّ قَائِدٍ تَجْتَمِعُ جَمَاعَةٌ تَحْتَ رَايَتِهِ.... فَأَمَّا مِنْ حَيْثُ الشَّرْعُ فَلَا بَأْسَ بِأَنْ تُجْعَلَ الرَّايَاتُ بِيضًا أَوْ صُفْرًا أَوْ حُمْرًا، وَإِنَّمَا يُخْتَارُ الْأَبْيَضُ فِي اللِّوَاءِ لِقَوْلِهِ - عَلَيْهِ السَّلَامُ -: «إنَّ أَحَبَّ الثِّيَابِ عِنْدَ اللَّهِ تَعَالَى الْبِيضُ، فَلْيَلْبَسْهَا أَحْيَاؤُكُمْ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ». وَاللِّوَاءُ لَا يَكُونُ إلَّا وَاحِدًا فِي كُلِّ جَيْشٍ، وَرُجُوعُهُمْ إلَيْهِ عِنْدَ حَاجَتِهِمْ إلَى رَفْعِ أُمُورِهِمْ إلَى السُّلْطَانِ. فَيُخْتَارُ الْأَبْيَضُ لِذَلِكَ لِيَكُونَ مُمَيَّزًا مِنْ الرَّايَاتِ السُّودِ الَّتِي هِيَ لِلْقُوَّادِ. شرح السير الكبير (ص: 71)

13.**ماده**: د ټولو مهمو مسائلو په هکله د اسلامي امارت دریځ له سیاسي پلوه په رهبري شورئ، اوله شرعي پلوه په علماوو شورئ کې له ارزونې وروسته تائید یا رد کیږي.

14.**ماده**: په کومه مسله کې که د علماوو شورئ او رهبري شورئ ترمنځ اختلاف شي، نو مسئله به مرکزي دارالافتاء ته لیږله کیږي. او د دار الافتاء له پریکړې سره سم به عمل کیږي.

15.**مادة**: د افغانستان اسلامي امارت د شریعت له ټاکلیو اصولو سره سم د کانونه او تر څمکه لاندې زیرمو ساتنه کوي او د شریعت په چوکاټ کې یې مستحقینو ته رسوي.

16.**ماده**: اسلامي امارت د عام المنفعه پروژو لکه: روغتیایي اسانتیاوې، عام سړکونه، مساجد، مدارس، مکاتب او داسې نورو په پر مخ بیولو او تنظیمولو کې ټولو اتباعو او سیمو اړتیاوې او ضرورت په پام کې نیسي.

17.**ماده**: اسلامي امارت د شهیدانو، معلولینو او مفقودینو له کورنیو سره د خپل توان په کچه مالي مرسته کوي، او د ښه ژوند زمینه ورته برابروي.

18.**ماده**: د اسلامي امارت ټول کارکوونکي مکلف دي چې یواځې او یواځې اسلامي ارزښتونه او د ولس سوکالي په نظر کې نیولو سره خپله دنده په مخ بوزي، هیڅ شخصي کتې ته به په خپل مسئولیت لومړیتوب نه ورکوي.

19.**ماده**: اسلامي امارت د افغانستان له پاره "کابل" د پلازمېنې په توګه مني، ارګ د امیر المؤمنین د ناستې ځای ګڼل کیږي، له همدې ځایه ټول هیواد رهبري کوي، خو په بېړني حالت کې د هیواد له بلې برخې هم خپلې چارې په مخ بیولی شي.

20.**ماده**: د هیواد پلازمېنه یواځې په عادي حالت کې د کوم ټولنیز مصلحت په موخه د رهبري شورئ، علماوو شورئ، سترې محکمې او میر المؤمنین ټولو په موافقه بلې سیمې ته بدلېدلی شي، په بېړني حالت کې هیڅوک د پلازمېنې د بدلون واک نه لري، ځکه دا چاره د هیواد د تقسیم او ټوټه کېدلو لامل کیږي.

21.**ماده**: د اسلامي امارت ټولې لائحې د رهبري شورئ، او علماوو شورئ له څېړنې او امیر المؤمنین یا نائب له موافقې وروسته واجب التنفیذ دي.

22.**ماده**: د لائحې تر تنفید وراندې پریکړې د وروستني تعدیل له امله نه شي بدلې دلی.

### دریم فصل

### د امیر المؤمنین ټاکنه، واکونه او حقوق

23.**مادة**: د افغانستان اسلامي امارت په راس کې يو مشر لري چې د ((امير المؤمنين)) لقب ورکړل شوی.(1)

24.**مادة**: څوک چې د امير المؤمنين په توګه ټاکل کيږي هغه کې شپږ صفتونه لازم دي. هغه دا چې: (مسلمان، حر، نارينه، عاقل، بالغ، او ټولو اسلامي قوانينو ته ژمن او په تنفيذ به يې قادر) وي.(2)

25.**مادة**: د افغانستان اسلامي امارت د امير المؤمنين د ټاکلو له پاره دوه لارې لري:

أ. د اهل الحل والعقد د شورا له لارې ټاکل.

ب. د پخواني امير المؤمنين له لوري د ولي العهد ټاکلو له لارې.(3)

## د امير المؤمنين واکونه

26. **ماده**: د اسلامي امارت ټولې چارې د اسلامي اصولو په رڼا کې پر مخ بيول د امير المؤمنين دنده او واک دی.

27. **ماده**: امير المؤمنين مکلف دی چې د امارت ټولې چارې د اسلامي شريعت په رڼا کې په مخ بوزي، او په دې لاره کې له علماوو شوري او مرکزي دارالافتاء څخه مرسته غوښتل شي.

28. **ماده**: امير المؤمنين به خپل مسئوليت او بيت المال الهي امانت ګڼي او د امانت په څېر چلند به ورسره کوي.

29. **ماده**: امير المؤمنين د اسلامي امارت د هر غړي د انتخاب او عزل بشپړ واک لري، هيڅوک يې له پرېکړې د سرغړونې حق نه لري،

---

(1) قال ابن الأزرق الغرناطي (المتوفى: 896هـ) الْمَسْأَلَة اللقب الْخَاص لصاحب الدولة وَقد زعم ابْن الْعَرَبِيّ الْحَاتِمِي أَن الْحِكْمَة الإلهية جرت فِي الْعَالم باختصاص الْخَلِيفَة باسم ينْفَرد بِهِ بِحَيْثُ إذا اطلق لَا يفهم مِنْهُ غَيره ثمَّ لَا عَلَيْهِ فِي الِاشْتِرَاك فِي بَقِيَّة اسمائه... إذا تقرر هَذَا فقد تحيروا من ذَلِك فِي الدولة الاسلامية بِحَسب التدريج فِي الْمُقْتَضِي لَهُ القابا جملَة: اللقب الأول: خَلِيفَة رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم سمي بذلك أَبُو بكر رَضِي الله عَنهُ ... اللقب الثَّانِي امير الْمُؤمنِينَ ... [illegible] بِهِ عمر رَضِي الله عَنهُ . بدائع السلك في طبائع الملك (2/ 246)

وقال عبد الحي الكتاني: وأول من سمّي بأمير المؤمنين من الخلفاء الراشدين عمر بن الخطاب اتفاقا. التراتيب الإدارية - نظام الحكومة النبوية (1/ 81)

(2) قال العلامة الحصكفى: وَيُشْتَرَطُ كَوْنُهُ مُسْلِمًا حُرًّا ذَكَرًا عَاقِلًا بَالِغًا قَادِرًا، قُرَشِيًّا لَا هَاشِمِيًّا عَلَوِيًّا، مَعْصُومًا. وَيُكْرَهُ تَقْلِيدُ الْفَاسِقِ. الدر المختار مع رد المحتار (1/ 548)

و قال ابن نجيم: اعْلَمْ أَنَّهُ لَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ الْإِمَامُ مُكَلَّفًا حُرًّا مُسْلِمًا عَدْلًا مُجْتَهِدًا ذَا رَأْيٍ وَكِفَايَةٍ سَمِيعًا بَصِيرًا نَاطِقًا، وَأَنْ يَكُونَ مِنْ قُرَيْشٍ وَلِلْإِمَامِ فِيهِ مَنْعٌ، وَإِنْ لَمْ يُوجَدْ فَمِنْ الْعَجَمِ. البحر الرائق (6/ 299)

(3) قال الماوردي: والإمامة تنعقد من وجهين: أحدهما: باختيار أهلِ العَقْدِ والحَلِّ. وَالثَّانِي: بِعَهْدِ الْإِمَامِ مِنْ قَبْلُ. الأحكام السلطانية للماوردي (ص: 21)

## د امیر المؤمنین حقونه

30. **ماده**: د مسلمانانو په خدمت د مصروفیت له امله به د امیر المؤمنین ورځني لګښتونه له بیت المال څخه پوره کیږي.

31. **ماده**: له امارت څخه د ځان عزل کولو په صورت کې د ژوند تر پایه د هغه ورځني لګښتونه هم له بیت المال څخه ورکول
کیږي.

32. **ماده**: که خدای مه کړه امیر المؤمنین د کوم جرم مرتکب شي د دندې په وخت کې هم قضائي مصؤنیت نه لري، بلکې قاضي
کولی شي چې هغه خلاف پریکړه وکړي.

33. **ماده**: امیر المؤمنین سره که څوک حقوقي دعوه لري، یا هغه په چا دعوه لري قاضي په کې د پریکړې واک لري.

## د امیر المؤمنین عزل

34. **ماده**: که خدام مه کړه امیر المؤمنین د داسې کړنو مرتکب شي، چې د عزل لامل ګرځي نو اهل الحل والعقد(رهبري شوری)
کولی شي چې د رایو په اکثریت / اتفاق هغه عزل کړي. او په ....... کې بل څوک د امیر المؤمنین په توګه وټاکي.
په دې موده کې د ... مادې په اساس لومړی، بیا دویم مرستیال د امارت چارې په مخ بیایي.

35. **ماده**: د امارت مشري میراثي نه ده، بلکې امیر المؤمنین له وفات یا استعفی وروسته به د اهل الحل والعقد له
لوري په .... ماده کې راغلي صفتونو لرونکی کس د امیر المؤمنین په توګه ټاکل کیږي.

## فصل: مرستیالان

36. **مادة**: د امیر المؤمنین مرستیالانو کې هم لاندې شپږ صفتونه لازم دي. هغه دا چې: (مسلمان، حر، نارینه،
عاقل، بالغ، او ټولو اسلامي قوانینو ته ژمن او په تنفیذ به یې قادر) وي. [1]

37. **ماده**: امیر المؤمنین کولی شي د اړتیا په مهال ځان ته یو، دوه یا زیات مرستیالان وټاکي، د مرستیالانو په ټاکلو کې د اهل الحل
والعقد(رهبري شوری) موافقه ضروري ده.

38. **ماده**: د امیرالمؤمنین د مړینې، ناروغي، اویا خدای مه کړه اسارت او غزل په مهال یې لومړی، بیا دویم مرستیال د امارت چارې
تر هغه په مخ بیایي چې اهل الحل والعقد نوی امیر المؤمنین ټاکي.

39. **ماده**: د مرستیالانو د مړینې، عزل یا استعفی په صورت کې د رهبري شوری په پیشنهاد یا موافقه امیر المؤمنین خپل مرستیالان
وټاکي.

---

(1) قال العلامة الحصفکی: وَيُشْتَرَطُ كَوْنُهُ مُسْلِمًا حُرًّا ذَكَرًا عَاقِلًا بَالِغًا قَادِرًا، قُرَشِيًّا لَا هَاشِمِيًّا عَلَوِيًّا، مَعْصُومًا. وَيُكْرَهُ تَقْلِيدُ الْفَاسِقِ. الدر المختار مع رد المحتار (1/ 548)
و قال ابن نجيم: اعْلَمْ أَنَّهُ لَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ الْإِمَامُ مُكَلَّفًا حُرًّا مُسْلِمًا عَدْلًا مُجْتَهِدًا ذَا رَأْيٍ وَكِفَايَةٍ سَمِيعًا بَصِيرًا نَاطِقًا، وَأَنْ يَكُونَ مِنْ قُرَيْشٍ وَلِلْإِمَامِ فِيهِ مَنْعٌ، وَإِنْ لَمْ يُوجَدْ فَمِنْ الْعَجَمِ. البحر الرائق (6/ 299)

## فصل:

## اهل الحل والعقد(رهبري شورى)

**40.مادة**: اهل الحل والعقد هغه کسان دي: چې لاندې درې صفتونه ولري:

لومړي: عادلان به وي. (ریښتیني، دیندار، با اخلاقه، له ناروا او سپکو کارونو به ځان ساتونکي وي).

دوهم: په دیني او سیاسي علومو به پوه او د مشرې په اصولو به خبر وي.

دریم: پوخې او سیاسي تجربه به لري.[1]

**41.مادة**: ضروري نه ده چې" اهل الحل والعقد " به د خلکو له لوري ټاکل شوي کسان وي، بلکې د امير د نشتوالي په مهال د علماوو، پوهانو او پوخې مشرانو دنده ده چې سره راټول شي او د مسلمانانو له پاره امير المؤمنين وټاکي.[2]

---

(1) قال في البحر: وَتَنْعَقِدُ بَيْعَةُ أَهْلِ الْحَلِّ وَالْعَقْدِ مِنْ الْعُلَمَاءِ الْمُجْتَهِدِينَ وَالرُّؤَسَاءِ لِمَا عُرِفَ اهـ البحر الرائق (6/ 299)
وقال الماوردي: فَأَمَّا أَهْلُ الِاخْتِيَارِ فَالشُّرُوطُ الْمُعْتَبَرَةُ فِيهِمْ ثَلَاثَةٌ: أَحَدُهَا: الْعَدَالَةُ الْجَامِعَةُ لِشُرُوطِهَا. وَالثَّانِي: الْعِلْمُ الَّذِي يُتَوَصَّلُ بِهِ إلَى مَعْرِفَةِ مَنْ يَسْتَحِقُّ الْإِمَامَةَ عَلَى الشُّرُوطِ الْمُعْتَبَرَةِ فِيهَا. وَالثَّالِثُ: الرَّأْيُ وَالْحِكْمَةُ الْمُؤَدِّيَانِ إلَى اخْتِيَارِ مَنْ هُوَ لِلْإِمَامَةِ أَصْلَحُ، وَبِتَدْبِيرِ الْمَصَالِحِ أَقْوَمُ وَأَعْرَفُ. الأحكام السلطانية للماوردي (ص: 17)

(2) قال في البحر: وَتَنْعَقِدُ بَيْعَةُ أَهْلِ الْحَلِّ وَالْعَقْدِ مِنْ الْعُلَمَاءِ الْمُجْتَهِدِينَ وَالرُّؤَسَاءِ لِمَا عُرِفَ اهـ البحر الرائق (6/ 299)
وقال الماوردي: وَإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهَا أَحَدٌ خَرَجَ مِنَ النَّاسِ فَرِيقَانِ: أَحَدُهُمَا: أَهْلُ الِاخْتِيَارِ حَتَّى يَخْتَارُوا إمَامًا لِلْأُمَّةِ. وَالثَّانِي: أَهْلُ الْإِمَامَةِ حَتَّى يَنْتَصِبَ أَحَدُهُمْ لِلْإِمَامَةِ، وَلَيْسَ عَلَى مَنْ عَدَا هَذَيْنِ الْفَرِيقَيْنِ مِنَ الْأُمَّةِ فِي تَأْخِيرِ الْإِمَامَةِ حَرَجٌ وَلَا مَأْثَمٌ، وَإِذَا تَمَيَّزَ هَذَانِ الْفَرِيقَانِ مِنَ الْأُمَّةِ فِي فَرْضِ الْإِمَامَةِ وَجَبَ أَنْ يُعْتَبَرَ كُلُّ فَرِيقٍ مِنْهُمَا بِالشُّرُوطِ الْمُعْتَبَرَةِ فِيهِ. فَأَمَّا أَهْلُ الِاخْتِيَارِ فَالشُّرُوطُ الْمُعْتَبَرَةُ فِيهِمْ ثَلَاثَةٌ: أَحَدُهَا: الْعَدَالَةُ الْجَامِعَةُ لِشُرُوطِهَا. وَالثَّانِي: الْعِلْمُ الَّذِي يُتَوَصَّلُ بِهِ إلَى مَعْرِفَةِ مَنْ يَسْتَحِقُّ الْإِمَامَةَ عَلَى الشُّرُوطِ الْمُعْتَبَرَةِ فِيهَا. وَالثَّالِثُ: الرَّأْيُ وَالْحِكْمَةُ الْمُؤَدِّيَانِ إلَى اخْتِيَارِ مَنْ هُوَ لِلْإِمَامَةِ أَصْلَحُ، وَبِتَدْبِيرِ الْمَصَالِحِ أَقْوَمُ وَأَعْرَفُ. الأحكام السلطانية للماوردي (ص: 17).

طلوع نیوز

## دریم فصل

## د حکومت جوړښت او تشکیل

42. **ماده**: د افغانستان اسلامي امارت د وزیرانو له تولګي عبارت دی چې امیر المؤمنین یې مشري کوي.

43. **ماده**: د وزارتونو شمېر د وخت اړتیا ته په پام سره د وزیرانو شورا په وړاندیز د امیر المؤمنین له لوري ټاکل کیږي.

44. **ماده**: د وزیر په توګه ټاکل کېدونکی کس باید لاندې صفتونه ولري:

مسلمان، عاقل، عالم به وي، د همدې مسلک څښتن ، او کاري تجربه ولري......

## فصل:شورى

45. **ماده**: د افغانستان اسلامي امارت په خپل جوړښت کې دوه شورګانې لري یوه رهبري شورى او بله د علماوو شورى. چې له امیر المؤمنین سره د کارنو چټکوالي، ښه والي کې مرسته کوي.

## رهبري شورا

46. **ماده**: د افغانستان اسلامي امارت په خپل جوړښت کې یوه رهبري شورى لري چې له امیر المؤمنین سره د سیاسي کارنو چټکوالي، ښه والي،او ستونزو په حل کې مرسته کوي.

47. **ماده**: د رهبري شورى غړي د امیر المؤمنین له لوري ټاکل کیږي. هغه باید له منسوبینو پرته له دیني علماوو، سیاسي، فوځي، اقتصادي، او طبي پوهانو جوړه وي تر څو د وزارتونو او کمیسونو د چارو ارزونې په مهال د خپلې دندې مدافع وکیلان نه شي. او که د منسوبینو له ډلې څوک رهبري شورى ته وټاکل شي، نو د ده د منصب(وزارت ، ریاست، یا کمیسون) ارزولو په مهال نوموړی په رهبري شورى کې د رایې حق نه لاسه ورکوي، پاتې نور غړي به د دې منصب د کارونو ارزیابي کوي، او په هکله به یې تصمیم نیسي.

48. **ماده**: د رهبري شورى مشر د دې شورى د غړو له منځه د امیر المؤمنین له لوري ټاکل کیږي.

49. **ماده**: رهبري شورى په تشکیل کې د مشر ترڅنګ یو مرستیال، یو محرر او یو اداري لري چې د شورى د مشر په پیشنهاد د امیر المؤمنین له لوري ټاکل کیږي.

50. **ماده**: د رهبري شورى باید لږ تر لږه (.....) غړي ولري. خو د غړو شمېر یې ضرورت او مصلحت ته په پام د امیر المؤمنین له لوري کمبدلی یا زیاتبدلی شي.

51. **ماده**: رهبري شورى باید په خپل جوړښت کې د سیاسي، اقتصادي، تعلیمي او .... چارو له پاره له خپلو غړو څخه بېلې بېلې جرګې یا حلقې ولري، چې د اړتیا په مهال د همدې چارو بهرنی ارزونه وکړي، او د شورى عمومي غونډې ته یې وړاندې کړي.

52. **ماده**: رهبري شورى ته د علم، پوهې، دیانت، اخلاص او کاري تجربې له مخې غړي ټاکل کیږي.

53. **ماده**: رهبري شورى غړي كه له هر قشر سره تړاو ولري، خو مسئوليت يې دادى چې اسلامي ارزښتونه د ټول ملت ښېرازي، او سوكالي به په پام كې نيسي.

54. **ماده**: رهبري ته واكونه د امير المؤمنين له لوري سپارل كيږي، څومره واک چې هغه وركړى وي په همغه مسئلو كې خپله پرېكړه كولى شي.

55. **ماده**: رهبري شورى كولى شي چې له امير المؤمنين پرته د امارت له ټولو منسوبينو سره محاسبه وكړي، د هغوى د كار، مسئوليت او مصارفو په هكله پوښتنې ترې وكړي.

56. **ماده**: له امير المؤمنين د كارونو ارزونه، او د لانښوالي په موخه په حكومتي او سياسي چارو كې مشورې وركول د رهبري شورى دنده ده، او په ديني او شرعي چارو كې د علماوو شورى مرسته كوي.

57. **ماده**: رهبري شورى د امارت ټولې دولتي او سياسي چارې څاري، چې واكونه يې په لاندې ډول دي:

أ. د امير المؤمنين فرمانونه تائيد كوي.

ب. لائحې تصويب، تعديل او يا لغوه كوي.

ج. له وزيرانو او رئيسانو سره محاسبه كوي، او تېر يوه كلنې مودې كار يې ارزوي.

د. د مالي بوديجې مصرفونه ټاكي او هر وزارت يا كميسون ته خپله استحقاق ټاكي.

ه. له علماوو شورا سره په ګډه نړيوال تړونونه تائيد يا لغوه كوي.

## د علماوو شوري

58. **ماده**: اسلامي امارت په خپل جوړښت كې د علماوو څواكمنه شورى لري، چې له شيوخ كرامو، مفتيان عظامو او جيدو علماوو حفظهم الله څخه جوړه ده، چې په شرعي او دينى چارو كې له امير المؤمنين سره مرسته كوي.

59. **ماده**: د علماوو شورى مشر د دې شورى د غړو له منځه د امير المؤمنين له لوري ټاكل كيږي.

60. **ماده**: د علماوو شورى په تشكيل كې د مشر ترڅنګ يو مرستيال، يو محرر او يو اداري لري چې د شورى د مشر په پېشنهاد د امير المؤمنين له لوري ټاكل كيږي.

61. **ماده**: علماوو شورى بايد لږ تر لږه (پنځوس) غړي ولري. خو د غړو شمېر يې ضرورت او مصلحت ته په پام د امير المؤمنين له لوري كمېدلى يا زياتېدلى شي.

62. **ماده**: د علماوو شورى بايد په خپل جوړښت كې د تحقيق، او تدقيق څانګې ولري، چې د اړتيا په مهال د تحقيق څانګه د مسلې شرعي اړخ څېړي او د تدقيق څانګه يې بيا كتنه كوي، ترڅو يې ټولې نيمګړتياوې رفع شي. او بيا د شورى عمومي غونډې ته وړاندې كيږي او د علماوو شورى د مشر او اكثريت غړو له تائيد وروروسته، د منلو وړ ده.

طلوع نیوز

75.**ماده**: کوم بهرني هیوادونه چې په متقابل احترام ولاړې دوستانه اړیکې غواړي، اسلامي امارت ور سره ښې اړیکې جوړوي.[1]

76.**ماده**: إسلامي امارت د نړۍ په هر هیواد کې د هیواد د سیاسي ګټو په بنسټ سفارتي اړیکې ساتي.

77.**ماده**: د نورو هیوادونو سفیرانو چې تر څو څرګند خیانت نه وي کړی اسلامي امارت ورته د امنیت، او مصئونیت تضمین ورکوي.[2]

78.**ماده** نړیوال تړونه به د امیر المؤمنین، علماوو شورا، او رهبري شورى په ګډه ناسته کې ارزول کیږي، که د اسلام له مبین دین، او افغانستان له ارزښتونو سره سم وو نو تائید او که ټکر وو بیا به رد کیږي.

79.**ماده**: هیڅوک نه شي کولی چې د بین المللي قوانینو په پلمه اسلامي ارزښتونه تر پښو لاندې کړي.

80.**مادة**: د افغانستان اسلامي امارت له نړیوالو هیوادونو سره معاهدې یواځې د اسلامي شریعت په رڼا کې کوي.

81.**مادة**: إسلامي امارت کولي شي چې د شریعت په چوکاټ کې له غیر اسلامي هیوادونو یا ټولنو مرسته وغواړي، او د هغوی ملاتړ تر لاسه کړي.[3]

---

(1) {لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ (8) إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (9)} [الممتحنة: 8، 9]

{فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا} [النساء: 90]

(2) سنن أبي داود (3/ 82) رقم الحديث (2758) عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، أَنَّ أَبَا رَافِعٍ أَخْبَرَهُ [ص:83]، قَالَ: بَعَثَتْنِي قُرَيْشٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُلْقِيَ فِي قَلْبِي الْإِسْلَامُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي وَاللَّهِ لَا أَرْجِعُ إِلَيْهِمْ أَبَدًا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَا أَخِيسُ بِالْعَهْدِ، وَلَا أَحْبِسُ الْبُرُدَ، وَلَكِنِ ارْجِعْ فَإِنْ كَانَ فِي نَفْسِكَ الَّذِي فِي نَفْسِكَ الْآنَ فَارْجِعْ"، قَالَ: فَذَهَبْتُ، ثُمَّ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمْتُ.

(3) وفي حديث جبير بن مطعم عند ابن سعد: إن زيد بن حارثة كان معه، في ليال من شوال سنة عشر يلتمس النصر من ثقيف والمنعة بهم من قومه، ورجا أن يقبلوا منه ما جاءهم به من الله تعالى.. سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد (2/ 438)

فَارْتَحَلَ ابْنُ الدَّغِنَةِ، فَرَجَعَ مَعَ أَبِي بَكْرٍ، فَطَافَ فِي أَشْرَافِ كُفَّارِ قُرَيْشٍ، فَقَالَ لَهُمْ: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ لاَ يَخْرُجُ مِثْلُهُ وَلاَ يُخْرَجُ، أَتُخْرِجُونَ رَجُلًا يُكْسِبُ المَعْدُومَ، وَيَصِلُ الرَّحِمَ، وَيَحْمِلُ الكَلَّ، وَيَقْرِي الضَّيْفَ، وَيُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ، فَأَنْفَذَتْ قُرَيْشٌ جِوَارَ ابْنِ الدَّغِنَةِ، وَآمَنُوا أَبَا بَكْرٍ، وَقَالُوا لِابْنِ الدَّغِنَةِ: مُرْ أَبَا بَكْرٍ، فَلْيَعْبُدْ رَبَّهُ فِي دَارِهِ، فَلْيُصَلِّ، وَلْيَقْرَأْ مَا شَاءَ، وَلاَ يُؤْذِينَا بِذَلِكَ، وَلاَ يَسْتَعْلِنْ بِهِ، فَإِنَّا قَدْ خَشِينَا أَنْ يَفْتِنَ أَبْنَاءَنَا وَنِسَاءَنَا، قَالَ ذَلِكَ ابْنُ الدَّغِنَةِ لِأَبِي بَكْرٍ، فَطَفِقَ أَبُو بَكْرٍ يَعْبُدُ رَبَّهُ فِي دَارِهِ، وَلاَ يَسْتَعْلِنُ بِالصَّلاَةِ، وَلاَ القِرَاءَةِ فِي غَيْرِ دَارِهِ، ثُمَّ بَدَا لِأَبِي بَكْرٍ، فَابْتَنَى مَسْجِدًا بِفِنَاءِ دَارِهِ وَبَرَزَ، فَكَانَ يُصَلِّي فِيهِ، وَيَقْرَأُ القُرْآنَ، فَيَتَقَصَّفُ عَلَيْهِ نِسَاءُ المُشْرِكِينَ وَأَبْنَاؤُهُمْ، يَعْجَبُونَ وَيَنْظُرُونَ إِلَيْهِ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ رَجُلًا بَكَّاءً، لاَ يَمْلِكُ دَمْعَهُ حِينَ يَقْرَأُ القُرْآنَ، فَأَفْزَعَ ذَلِكَ أَشْرَافَ قُرَيْشٍ مِنَ المُشْرِكِينَ، فَأَرْسَلُوا إِلَى ابْنِ الدَّغِنَةِ، فَقَدِمَ عَلَيْهِمْ فَقَالُوا لَهُ: إِنَّا كُنَّا أَجَرْنَا أَبَا بَكْرٍ عَلَى أَنْ يَعْبُدَ رَبَّهُ فِي دَارِهِ، وَإِنَّهُ جَاوَزَ ذَلِكَ، فَابْتَنَى مَسْجِدًا بِفِنَاءِ دَارِهِ، وَأَعْلَنَ الصَّلاَةَ وَالقِرَاءَةَ، وَقَدْ خَشِينَا أَنْ يَفْتِنَ أَبْنَاءَنَا وَنِسَاءَنَا، فَأْتِهِ، فَإِنْ أَحَبَّ أَنْ يَقْتَصِرَ عَلَى أَنْ يَعْبُدَ رَبَّهُ فِي دَارِهِ فَعَلَ، وَإِنْ أَبَى إِلَّا أَنْ يُعْلِنَ ذَلِكَ، فَسَلْهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْكَ ذِمَّتَكَ، فَإِنَّا كَرِهْنَا أَنْ نُخْفِرَكَ، وَلَسْنَا مُقِرِّينَ لِأَبِي بَكْرٍ الِاسْتِعْلاَنَ، قَالَتْ عَائِشَةُ: فَأَتَى ابْنُ الدَّغِنَةِ أَبَا بَكْرٍ، فَقَالَ: قَدْ عَلِمْتَ الَّذِي عَقَدْتُ لَكَ عَلَيْهِ، فَإِمَّا أَنْ تَقْتَصِرَ عَلَى ذَلِكَ، وَإِمَّا أَنْ تَرُدَّ إِلَيَّ ذِمَّتِي، فَإِنِّي لاَ أُحِبُّ أَنْ تَسْمَعَ العَرَبُ، أَنِّي أُخْفِرْتُ فِي رَجُلٍ عَقَدْتُ لَهُ، قَالَ أَبُو بَكْرٍ: إِنِّي أَرُدُّ إِلَيْكَ جِوَارَكَ، وَأَرْضَى بِجِوَارِ اللَّهِ. صحيح البخاري (3/ 98)

63. **ماده**: د علماوو شورى د اسلامي امارت ټولې چارې د شريعت په چوکاټ کې ارزوي، د امارت ټولې لائحې، فرمانونه او قوانين د شريعت له لارښونو سره برابروي.

64. **ماده**: کوم فرمان، لائحه، يا قانون چې د علماوو شورى د شريعت له غوښتنو او ارزښتونو سره ټکر وباله هغه د منلو نه دی، بله هيڅ مرجع يې د تصويب حق نه لري.

65. **ماده**: په اسلامي امارت کې په دندو ګومارل کېدونکي کسان هم که د علماوو شورى له لوري له شرعي نکته نظره وغندل شي نو تر څو چې ځان نه وي اصلاح داسې کسان په امارت کې په لوړو پوستونو نه شي ګومارل کېدلی.

66. **ماده**: يو کس نه شي کولی چې په يوه وخت کې د رهبري شورى، او علماوو شورى دواړو غړيتوب تر لاسه کړي.

67. **ماده**: رهبري شورى او علماوو شورى کې هر غړى له هر ډول فشار پرته د خپلې رايې اظهار کولی شي تر څو چې له اسلامي ارزښتونو سره ټکر ونه لري، خو پرېکړه به د رايو په اکثريت کيږي.

68. **ماده**: د دواړه شوراګانو هيڅ غړى يوازې د مخالفې رايې په ورکولو تر عدلي تعقيت لاندې نه راځي، تر څو چې رايه له اسلامي چوکاټه وتلې نه وي.

69. **ماده**: د دواړه شوراګانو په کوم غړى که تور پوري شي، نو يوازې محکمه د امير المؤمنين په امر پوښتنې او ګروېږنې ترې کولی شي.

## فصل خارجي اتباع

70. **ماده**: اسلامي امارت په افغانستان کې ټولو خارجي اتباعو ته په هغه حقونو مکلف دی چې د اسلام مبين دين ورته ټاکلي دي.

71. **ماده**:  هيڅ خارجي تبع د افغانستان له قوانينو مستثنى نه دی، يوازې هغه مسائل چې اسلامي شريعت ورته په استثناء قائل دی هغه نه پرې تطبيق کيږي.

72. **ماده**: خارجي اتباع نه شي کولی چې د افغانستان خاوره د نورو پر خلاف وکاروي.

73. **ماده**: مجاهرين او بهرني اتباع يوازې هغه مهال د په افغانستان کې د ملکيت حق لري چې په ښکاره ډول د افغانستان تابعيت ورکړل شوی وي، او يا اسلامي امارت لازمه وګڼي چې.

## فصل

### سياسي موضوعات:

74. **مادة**: د افغانستان اسلامي امارت د ملکرو ملتونو په هغه قوانينو مکلف نه دی چې له اسلامي ارزښتونو سره ټکر لري. لکه: د شريعت له چوکاټه وتلې د بيان ازادي، بشر حقوق، او مدني حقوق.

**82.ماده**: اسلامي امارت د هیڅ ډاسې مرسته او ملاتړ نه مني چې د اسلام کوم حکم ماتېدلو غوښتنه پورې تړلې وي. [1]

## فصل تابعیت او تذکرې

## فصل د مهاجرینو اړوند

**83. ماده**: مهاجر هغه مسلمان ورور دی چې له نورو هیوادونو څخه کومو ستونزو له امله افغانستان ته پناه راوړې وي.

**84. ماده**: کوم مهاجر ورور که په خپل هیواد کې شرعي جرم کړی وي، او په هغه هیواد کې عادلانه شرعي محکمه هم وي، نو اسلامي امارت دغه مجرم ورسپارلی شي، او که یې جرم شرعي نه وي، یا یې په خپل هیواد کې شرعي محکمه نه وي د داسې سړي محاکمه باید د اسلامي امارت په محکمه کې وشي.

## نظامي بخش

**85.ماده**: د افغانستان اسلامي امارت په نظامي چوکاټ کې دوه برخې لري:

لومړي مذهبي ځواک: له دیني زده کړو فارغ .....

دویم وطني ځواک:

## فصل د محاکمو برخه.

**86. ماده**: محاکم د اسلامي امارت یوه خپلواکه او مستقله اداره ده چې د ټول هیواد په کچه په خپلو پرېکړو کې خپلواکه ده د هیڅ ډ تر اغیز او اثر لاندې نه راځي، او نه څوک یې په پرېکړو کې د مداخلې حق لري.

**87. ماده**: له امیر المؤمنین یا یې مرستیال پرته هیڅوک حق نه لري چې کوم شخص، یا سیمه د محاکمو له واکه وباسي.

**88. ماده**: د محاکمو کارکوونکي د محاکمو عالي اداري په پېشنهاد د امیر المؤمنین یا نائب له لوري ټاکل کیږي.

**89. ماده**: کومې پرېکړې چې د لائحې تر تنفیذ وړاندې شوې وي هغه د وروستنی لائحې له امله نه شي بدلېدلی.

**90. ماده**: د محاکمو بهیر به علني وي، مدعي، مدعی علیه. او شاهدان به نور د قضاء مجلس ته حاضرېږي. هیڅ قاضي یا محکمه نه شي کولی چې په پټه د چا په حق یا خلاف پرېکړه وکړي.

---

(١) وبعث إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، فأعلمه ما قالت قريش، وقال له: أبق على نفسك وعلي، ولا تحمّلني من الأمر ما لا أطيق، فظنّ رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قد بدا لعمه رأي، وأنه خذله، وضعف عن نصرته، فقال رسول الله صلوات الله وسلامه عليه: «يا عماه، والله لو وضعوا الشمس في يميني، والقمر في شمالي، على أن أترك هذا الأمر حتى يظهره الله، أو أهلك فيه؛ ما تركته». فقه السيرة للغزالي (ص: ١١٧)

طلوع نیوز

91. **ماده**: په افغانستان کې ټول قضاة مکلف دي چې د حنفي مذهب سره سم به فیصلې کوي، د نورو مذهبونو (لکه: شوافع، مالکیه، حنابله، اهل ظواهر، او هل تشیع) له پاره به یا خو د محاکمو د عالي اداري له نوري اختصاصي محکمه جوړیږي، او یا به هم مصحین صلح ورکوي او حنفي قاضي به د هغوی صلح تائیده وي.

92. **ماده**: د باصلاحیته محکمې له حکم پرته څوک مجرم نه پیژندل کیږي. نوځکه د محکمې تر قطعي حکم وړاندې چاته سزا نه شي ورکول کېدلی.

93. **ماده**: د افغانستان ټول اتباع یوائځې د افغانستان اسلامي امارت په محاکمو کې محکمه کېدلی شي.

94. **ماده**: هیڅ افغان د کوم جرم په تور بهرني هیواد ته نه شي سپارل کېدلی.

95. **ماده**: هیڅ بهرنی مرجع نه شي کولی چې په افغانستان کې څوک ونیسي، محاکمه یې کړي، او یا یې په مال او شتمني تعارض وکړي.

96. **ماده**: جرم د هر سړي شخصي عمل دی، له ده پرته یې بل څوک په جرم نه نیول کیږي.

97. **ماده**: له شرعي عذر پرته د اسلام هر حکم ماتول جرم دی، او د امارت فرمانونه ماتول هغه مهال جرم ګڼل کیږي چې د نفوذ له نېټې وروسته یې څوک له شرعي عذر پرته سرغړونه وکړي.

98. **ماده**: هیڅ چاته د شریعت خلاف، یا تر ټاکلې اندازه زیاته سزا نه شي ورکول کېدلی.

99. **ماده**: د کومو جرمونو سزاګانې چې امام یا قاضي ته سپارل شوې وي هغوی مکلف دي چې داسې سزا وټاکي چې د سزا ډول ناروا نه وي، د بېلګې په ډول لوطي ته بالمثل سزا نه شي ورکېدلی.

100. **ماده**: اقرار یوائځې هغه مهال معتبر دی چې د قاضي په وړاندې په خپله خوښه وشي. په زور اخیستل شوی اقرار او قضاء له مجلسه دباندې اقرار د منلو نه دي.

101. **ماده**: هر څوک کولی شي چې دعوه یا دفع دعوه په خپله یا د وکیل له لارې په مخ بوزي.

102. **ماده**: د قاضي د ناسمې پرېکړې له امله که څوک متضرر شي، که پرېکړه قصدي وه تاوان یې په قاضي، او که په تېروتنه شوې وي نو تاوان به یې له بیت المال څخه ورکول کیږي.

د محاکمو د لائحې عمومي مواد باید دلته راوړل شي که تعدیل ته یې اړتیا وه بیا به ګورو

## فصل: دار الافتاء

د دار الافتاء د لائحې عمومي مواد باید دلته راوړل شي که تعدیل ته یې اړتیا وه بیا به ګورو

طلوع نیوز

## فصل: تعلیم او تربیه:

103. **ماده**: زده کړه د هر افغان اساسي حق دی، اسلامي امارت هڅه کوي چې له خپل وس سره سم ټولو اتباعو ته د تعلیم زمینه برابره کړي.

104. **ماده**: په مورنۍ ژبه تعلیم د هر افغان حق دی، اسلامي امارت هڅه کوي د وولس ماشومانو ته په خپله مورنۍ ژبه د لومړنیو زده کړو اسانتیا برابره کړي.

105. **ماده** : عالي تحصیلات باید په پرمختللو ژبو (لکه: عربي، انګریزي او داسې نورو) ووېل شي، تر څو مو ځوانان نړیوالو چلنجونو ته د ځواب جوګه شي.

106. **ماده**: اسلامي امارت په ټولو تعلمي ادارو (مدارسو، مکاتبو) کې د لسانس ترکچې اسلامي او عصري علوم دواړه لازم ګڼي. له هغه وروسته د تخصوصاتو برخه کې هر سړي ته اختیار دی چې دیني علوم وایې اوکه عصري.

أ. په مدارسو کې د دیني علومو ترڅنګ درېش سلنه عصري علوم او لسانیات ضروري دي.

ب. په مکاتبو کې له دېرش تر پنځوس سلنې دیني علوم(قرائت، تجوید، فقه، حدیث،تفسیر، ابتدایي صرف، نحو او اصول الفقه) لوستل لازم دي.

107. **ماده**: اسلامي امارت د اسلامي ټولنې د وحدت او یووالي په موخه د واحد تعلیمي نصاب پلوي دی.

108. **ماده**: خصوصي نصابونو ته یوازې هغه مهال اجازه ورکول کیږي چې معیار یې د امارت له نصاب سره برابر یا ترې لوړ وي، او دیني ارزښتونو ته په کې بشپړه پاملرنه شوې وي.

109. **ماده**: بهرنۍ مؤسیسې او یا اشخاص یوازې هغه مهال خیریه یا غیر خیریه تعلیمي ادارې جوړولی شي، چې د امارت له لوري اجازه ورکړل شوې وي، او امارت یې تل د څارني حق لري.

# فصل

## د اسیرانو حقونه

110. **ماده**: د زندان مشر او څارونکي باید نېک، دیندار، عادل، ځیرک، مدبر، قوي، حوصله لرونکي او د زندان د چارو کې ماهر خلک وي.

111. **ماده** اسلامي امارت به تل د بندیانو په اړه پوښتنې کوي د هغو حال به معلوموي چې څوک غیر شرعي چند ورسره ونه کړي، او یا څوک بې ګناه په بند کې پټه نه شي.

طلوع نیوز